## د افغانستان لپاره د بهرنيو چارو د وزيرانو کنفرانس او په هغه کې د افغانستان د مدني ټولنې ونډه

### ۱. مقدمه:

د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په پنځمه نېټه په بن کې د بهرنيو چارو د وزيرانو يو نړيوال کنفرانس جوړېږي. دا کنفرانس د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي د هغې غوښتنې پر بنسټ جوړېږي چې په ۲۰۱۱ کال کې يې په ليزابن کې د ناټوغړيو هيوادونو له مشرانو سره په يو ملاقات کې د المان له صدراعظمې مېرمن انګيلا مرکل څخه کړې وه. دا کنفرانس د افغانستان تر رهبرۍ لاندې جوړېږي. **د بهرنيو چارو وزيرانو د کنفرانس هدف** د راروانې پروسې "د مسؤوليت انتقال" مشخصول دي.

د المان د حکومت له نظره دا عبارت دي له:

- د انتقال پروسې د بهير څېرنه او په نتيجه کې يې تر ۲۰۱۴ کال پورې د انتقال د پروسې د مدني اړخونو تناسب تعينول او دقيق اندازه کول دي.
- د افغانستان او سيمې لپاره تر ۲۰۱۴ کال وروسته د نړيوالې ټولنې د اوږدمهالې همکارۍ په اړه تفاهم
- په افغانستان او سيمه کې د سياسي پروسې د پرمختياوو په اړه د افکارو تبادله، البته د دې پروسې (په ځانګړې توګه د ملي پخلاينې پروسې) ارزښت يا ملي موقف يوه افغاني داخلي مسأله پېژندل کېږي.

ټول طرح شوي موضوعات په حقيقت کې د افغانستان د خلکو په ګټو راڅرخي، په دې معنی چې د افغانستان غير حکومتي فعالان هم په برکې نيسي.

له همدې کبله د المان حکومت د افغانستان له حکومت سره د افغانستان د مدني بنسټونو (مدني ټولنې) د استازو د ګډون په اړه د بهرنيو چارو د وزيرانو تر کنفرانس وړاندې او د هغه په جريان کې، تفاهم وکړ.

د لا ډېر مشروعيت موندنې او د داسې نتيجو ترلاسه کولو په منظور چې د مدني ټولنې موقف په پام کې ولري، اړينه ګڼل شوې څو د افغانستان مدني ټولنه د افغانستان د راتلونکې په اړه د تصميم نيونې په پروسه کې ونډه ولري.

له همدې کبله د المان د بهرنيو چارو وزارت او BMZ د المان سياسي بنسټونو ته وړانديز وکړ چې د بن تر رسمي کنفرانس وړاندې د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو يا بنسټونو د ونډې اخيستنې يوه پروسه تنظيم کړي او همکاري ورسره وکړي. د کنراداديناور بنسټ فريدريش ايبرت او هاينريش بل له بنسټونو سره په همکارۍ په دې برخه کې خپله همکاري اعلان کړه. همدا راز فريدريش ناومن بنسټ حاضر شو چې د دې پروسې يوه مالي او

تنظیموونکې برخه په غاړه واخلي. ویرنو VENRO هم ژمنه وکړه چې په دې پروسه کې د افغانستان د مدني ټولنې د فعالانو د ونډې ملاتړ وکړي.

## ۲. د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو د ونډې اخیستنې پروسه

د افغانستان د مدني ټولنې د سازمانونو دګډون یا ونډې اخیستنې پروسه په دوو برخو وېشل کیږي:

په لومړي پړاو کې " افغاني فعالیتونه" په خپله په افغانستان کې ترسره کیږي چې د افغانستان د مدني ټولنې د بېلابېلو استازو تر منځ د مشورې او تفاهم پروسه ده. هدف یې دا دی چې د بن کنفرانس لپاره او تر هغه ورهاخوا سیاسي سپارښتنې ترتیب کړي.

د فریدریش ایبرت او هاینریش بل بنسټونه به خپل ډېر پام " د افغانستان فعالیتونو" ته متمرکزوي. دکنرادادیناور بنسټ به د برابرو حقونو د همکار په توګه خپله همکاري کوي.

د دې پروسې مشرتوب د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمسیون (AIHRC) په غاړه ده.

په یو دویم پړاو کې دکنرادادیناور بنسټ د فریدریش ایبرت، هاینریش بل او د آزادۍ لپاره د فریدریش ناومن بنسټ سره په تفاهم او همکارۍ د بهرنیو چارو د وزیرانوکنفرانس په درشل کې د مدني ټولنې غونډه تنظیموي چې په هغې کې به په ټاکل شویو سیاسي سپارښتنو بحث وشي او وړاندې به شي.

### ۲. ۱ د افغانستان فعالیتونه:

په افغانستان کې د فریدریش ایبرت او هاینریش بل بنسټونه دکنرادادیناور بنسټ په همکارۍ د افغانستان د غیر حکومتي سازمانونو او نورو اجتماعي فعالانو د ونډې اخیستنې او پوهاوي پروسیجر تنظیموي او ملاتړ یې کوي.

په کابل کې د المان سفارت هم د دې پروسې ملاتړکوي. **د افغانستان د فعالیتونو هدف** په بن کې د بهرنیو چارو د وزیرانو دکنفرانس ته د افغانستان مدني ټولنې چمتوکول دي. په دې معنی چې :

د افغانستان د مدني ټولنې استازي سره منسجم کړي اود وروسته سیاسي پروسې د بهیر په اړه د لاندې هدف لپاره بحث وشي؛

- د سیاسي سپارښتنو په اړه تفاهم چې مخاطب یې د افغانستان حکومت دی.
  سیاسي سپارښتنې باید د بن کنفرانس د هیلو په برکې نیوونکې او په هغه کې د وروسته سیاسي پروسې موقف او غوښتنو ته انعکاس ورکوونکې وي.
- د دې هدف لپاره دوه سیمه ییزې ناستې او دوه مدني کنفرانسونه جوړیږي چې سیاسي سپارښتنې به په کې طرحه او تصویب شي.
- دګډو سیاسي سپارښتنو په اړه تفاهم باید د اکتوبر تر ۳۱ پورې رامنځته شي،
- څرنګه چې په پام کې ده چې ترکنفرانس مخکې د دې سیاسي سپارښتنو پرعمده مسألو د افغانستان له حکومت سره بحث وشي. هدف یې دا دی چې د افغانستان حکومت د هیأت په رسمي موقف اغېز وکړي او په ډېر ښه وخت کې یې اساسي موقف د هغوی په موقف کې شامل شي.
- په همدې وخت کې باید دا سیاسي سپارښتنې د هغو هیوادونو وزراتونو ته صادرې شي چې د بهرنیو چارو وزیرانو په کنفرانس کې ګډون کوي.
- د دې سیاسي سپارښتنو د انتقال نور امکانات هم په پام کې نیول شوې دي ( د بېلګې په توګه افغاني او الماني رسنۍ او په افغانستان کې نور غیر دولتي سازمانونه.)

- " د افغانستان د دې فعالیتونو" په نتیجه کې باید د افغانستان د مدني ټولنې له استازو څخه یوه ۳۴کسیزه ډله تعینه شي چې په بن کې د مدني ټولنې په غونډه کې ګډون وکړي.
- پر دې سربېره باید یاده ډله په دوه نفرو تفاهم وکړي چې د ډسمبر په پنځمه نېټه په بن کې د بهرنیو چارو وزیرانو په نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړي او په پای کې د افغانستان د مدني ټولنې د استازو سیاسي سپارښتنې وړاندې کړي.

د افغانستان د فعالیتونو په چوکاټ کې څو خواوې د ځانګړي اهمیت لرونکې دي:

- د افغانستان فعالیتونه باید د افغاني سازمانونو تر رهبرۍ لاندې ترسره شي (افغانانو ته د مسؤولیت انتقال). له همدې مخې د ستاینې وړ ده چې د افغانستان دبشري حقونو خپلواک کمسیون دا مسؤولیت منلی دی. د الماني بنسټونو رول یوازې تنظیموونکی دی.
- هڅه کېږي چې د افغانستان د غیر دولتي سازمانونو ونډه تر ممکن حد پورې پراخه وي.

البته د بشپړتابه دعوه یې نه کېږي. له ګډون څخه د افغانستان د مدني ټولنې د استازوګډون دی نه په خپله د افغانستان د مدني ټولنې.

- د سیاسي سپارښتنو اصلي مخاطب د افغانستان حکومت دی. نړیواله ټولنه یې غیر مستقیمه مخاطبه کیدلی شي، چې دا د " مسؤولیت د انتقال" له اصل سره سمون لري.

## ۲.۲ د بهرنیو چارو وزیرانو دکنفرانس په درشل کې د مدني ټولنې غونډه

مدني غونډه هم د بهرنیو چارو وزیرانو تر نړیوال کنفرانس درې ورځې مخکې په بن کې دکنراد ادیناور بنسټ تر مشرتابه لاندې تنظیمېږي. په دې برخه کې له فریدریش ایبرت، هاینریش بل او فریدریش ناومن بنسټونو سره نږدې تفاهم او همکاري رامنځته کېږي. د اساسي اهمیت وړ دا ده چې سیاسي سپارښتنې " د افغانستان د فعالیتونو" په چوکاټ کې ترتیب او پای ته رسېږي. په یاده غونډه کې لازمه ده چې دا اسناد وړاندې شي او په منځپانګه یې بحث وشي. **د دې مدني – اجتماعي غونډې هدف** دا دی چې د افغانستان د مدني ټولنې لپاره یو علني پلیټ فورم رامنځته کړي، په دې معنی چې :

- د افغانستان د مدني ټولنې استازي باید دا امکانات ترلاسه کړي چې خپلې سیاسي سپارښتنې په علني توګه ننداري ته وړاندې کړې د راتلونکې سیاسي پروسې په اړه خپل موقف او د بهرنیو چارو د وزیرانو له کنفران څخه خپلې هیلې بحث ته وړاندې کړي.
- دلته اصلي مخاطب بیا هم په لومړي قدم کې د افغانستان حکومت دی.
- پر دې سربېره به دا غونډه مرسته وکړي چې د افغانستان د مدني ټولنې موقف په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې فعالانو ته روښانه کړي او هغوی به د ځان په اړه حساس کړي.
- وروستنې نه، بلکې په پای کې د دې مخاطبین الماني او نړیواله ټولنه، الماني او نړیوال سازمانونه دي چې په افغانستان کې فعال دي.
- دا غونډه په هیڅ وجهه د دې لپاره نه ده چې الماني او نړیوال غیر حکومتي سازمانونه ترې د یو پلیټ فورم په توګه د موقف اظهارولو استفاده وکړي.

دا غونډه باید د سیاسي سپارښتنو د وړاندې کولو امکانات او پر هغو د بحث کولو زمینه رامنځته کړي چې د هغو سره سم د غونډې طرحه په لاندې ډول ده:

- دا غونډه د سیاسي سپارښتنو د منځپانګې له اصلي موضوعاتو سره سمه چې د افغانستان د فعالیتونو په چوکاټ کې رامنځته شوې، له موضوع سره سم ترتیبیږي او په پنلونو (جلسو) کې تقسیم بندي کیږي.
- په دې پنلونو کې له ۳ تر ۴ پورې استازي کولی شي چې د موضوعاتو اړوند خپل موقف تشریح کړي، اضافي معلومات وړاندې کړي، د فعالانو د موقفونو موجود تفاوتونه وځیري او مطرح شویو پوښتنو ته ځواب ورکړي.
- د موضوعاتو یا پنلونو د ویش تفکیک باید په دقیقه توګه وشي چې دا مسأله د اړوندو سپارښتنو د منځپانګې له غوراوي سره تړاو لري. په همدې دلیل اړینه ده چې سیاسي سپارښتنې د اکتوبر تر ۳۱ پورې پای ته ورسیږي څو د موضوعاتو او پنلونو تقسیم بندي په مناسب وخت کې ترسره شي. د دې لپاره چې د بحثونو لپاره ډېر وخت په واک کې وي، تر ځلورو ډېر پنلونه په پام کې نه دي نیول شوي چې په همدې خاطر باید سیاسي سپارښتنې هم په ځلورو عمومي برخو یا موضوعاتو کې راټولې شي.
- د منځپانګې په اړه د مدني ټولنې د استازو د موقف تحلیل او جدي چلند د دې غونډې د بریالیتوب لپاره عمده اصل ګڼل کیږي. د همدې هدف ترلاسه کولو لپاره د دې غونډې زماني چوکاټ یوه نیمه ورځ په بر کې نیسي. د جمعې ورځې په ماسپښین کې تر رسمي پرانیستې وروسته دوه پنلونه، شنبه په بشپړه توګه د کنفرانس ورځ ده چې په هغې کې به دوه نور پنلونه او د غونډې د رسمي پایلې مراسم د افغانستان د حکومت، المان او ممکن د نورو هیوادونو د استازو په حضور ترسره شي.

## د مخکې تر مخکې پلان له مخې د غونډې جریان په لاندې ډول دی:

### د جمعې په ورځ ماسپښین:

- **پرانیسته:** پټیل شوې ده چې غونډه د یوه منتخب او لوړپوړي الماني استازي له خوا افغاني، الماني او نړیوالو میلمنو ته په ستړي مشي ویلو پیل شي او د افغانستان د مدني ټولنې ګډون، " د افغانستان فعالیتونه" او مدني – اجتماعي غونډه تشریح کړي.
- **بنسټیز یا کلیدي یادښت:** تر پرانیستې وروسته یو افغان استازي ته چې په خپله د ډلې له خوا تعیین شوی وي، فرصت ورکول کیږي چې دا پروسه د افغاني لیدلوري له مخې تشریح کړي او د ټولو سیاسي سپارښتنو په اړه خپل بنسټیز او مقدماتي یادښتونه وړاندې کړي.
- **لومړی او دویم پنل (جلسه)** : د ۳ تر ۴ نفرو افغاني استازو له خوا د سیاسي سپارښتنو د منځپانګې په اړه پریزینټیشن او بحث چې د یو الماني یا بهرني پرمخ بیوونکي تر رهبرۍ لاندې به پر مخ وړل کیږي.

### د شنبې په ورځ تر غرمې مخکې:

- د افغانستان د دولت، المان او د امکان په صورت کې د ټولو هیوادونو له استازو سره لیده‌کاته او د نظر تبادله.
- **د غونډې پای:** غونډه د یوې اعلامیې په صادرولو سره د افغاني ډلې د یو تن په واسطه چې (په خپله د ګروپ یا ډلې له خوا تعیین شوی وي) او یو الماني استازي له خوا (چې باید مشخص شي) پای ته رسیږي.
- دلته‌کیدلی شي چې د افغانستان د مدني ټولنې د استازو سیاسي سپارښتنې، هیلې ، شک او تردید جمع بندي شي او د یو پیغام په توګه د افغانستان حکومت ته صادر شي.

## ۳،۲ د بهرنیو چارو وزارتونو په کنفرانس کې د دوو تنو استازو ګډون

د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په پنځمه د دوشنبې په ورځ د بهرنیو چارو وزیرانو کنفرانس چې د المان د بهرنیو چارو وزارت له خوا تنظیم شوی دی، جوړیږي. په دې کنفرانس کې د افغانستان د مدني ټولنې د استازو په استازیتوب دوه تنه ګډون کوي او ټولې سیاسي سپارښتنې وړاندې کوي.
په دې اړه د المان د بهرنیو چارو وزارت په دې باور دی او مکررې هڅې کوي چې استازي د افغانستان د دولت له مداخلې پرته د افغانستان د مدني ټولنې د استازو په صلاحیت او مسؤولیت وټاکل شي

## ۴،۲ مطبوعاتي او تبلیغاتي چارې

د دې پروژې د اهدافو ترلاسه کولو په خاطر او د مدني ټولنې د استازو لپاره د زمینې برابرولو په خاطر چې نړیوالو ته خپل غږ ورسوي، د الماني او نړیوالو مطبوعاتو په حضور کې یو مطبوعاتي کنفرانس ورکول کیږي. دلته د مدني ټولنې د هیأت ټاکل شوي استازي کولی شي چې د سیاسي سپارښتنو په اړه خپل دریځ روښانه کړي او په مجموع کې د دې پروژې په اړه معلومات ورکړي.
البته د دې غونډې په ټلویزیوني خپرونې هم فکر کیږي. دا مسأله په دې خاطر د اهمیت وړ ده چې له دې لارې د افغانستان ټلویزیوني چینلونه کولی شي د مدني فعالانو په اړه رپورټ ورکړي او د افغانستان خلک د بن له پېښو خبر کړي. په دې کار سره کیدلی شي چې مدني فعالیتونو ته د بهرنیو چارو د وزیرانو د کنفرانس په چوکاټ کې پراخ او تلپاتې اغېز ور وبښي.

## ۳. په مجموع کې د دې پروسې د برې شرطونه:

په مجموع کې د دې پروسې د برې لپاره، یعنې د افغاني فعالیتونو او همدارنګه د غونډې لپاره لاندې شرطونه له ځانګړي اهمیت څخه برخمن دي.

- مرکزي یا بنسټیزه نقطه، د دې پروسې عمومیت د ډیموکراټیکو او بشردوستانه ارزښتونو په چوکاټ کې دی. دا د افغاني غیر دولتي سازمانونو د پراخې او متناسبې ونډې په معنی ده، البته د هر ډول افراطي او سخت دریځو ګډون کوونکو په مقابل کې جدي مخالفت ته په پاملرنې سره.
- عمومیت په دې پروسه کې د ښځو د متناسب ګډون په معنی دی. د سیاسي بنسټونو له خوا په دې اصل په جدي توګه ټینګار شوی او ملاتړ یې کیږي. د "مسؤولیت انتقال" اصل ته د رسیدو په خاطر وروستی تصمیم په خپله افغان فعالانو ته پرېښودل کیږي.
- (افغانانو ته سپارل) – " افغاني فعالیتونه" او غونډه په دې معنی ده چې الماني فعالان یوازې د دې ټولې پروسې د تنظیم کوونکو رول لري او بس.
- د افغانستان د مدني ټولنې د استازو مستقل او خود مختار انتخاب او په نړیوال کنفرانس کې د دوی د دوو نفرو استازو ګډون چې ټولې سیاسي سپارښتنې وړاندې کړي.

د ۱۳۹۰کال د وږي ۳۱